Author: Amanullah Zarawar
(Fact Crescendo Team)
Category: International
Result: Explainer
Date: 7 Oct 2024

ایا د یوولسم اکتوبر قامي عدالت جرګې په اړه پوهېدل غواړئ؟ دلته د مهمو پوښتنو ځوابونه لولئ!

د یوولسم اکتوبر قامي عدالت جرګه به څه ډول او چېرته ترسره شي؟ د دې جرګې او حرکت مشري څوک کوي؟ آیا د یوولسم اکتوبر قامي عدالت جرګه به په خپل ټاکلي وخت وشي؟ د پاکستان حکومت یې ولې مخالفت کوي؟ دې جرګې ته په افغانستان کې د طالبانو د حکومت څه غبرګون دی؟

د پښتون ژغورنې غورځنګ (PTM) او د را تلونکي یوولسم اکتوبر قامي عدالت لوی جرګې په اړه پورته او نورو اساسي پوښتنو ته فکټ کریسنډو په دې (explainer) کې مالومات وړاندې کړي دي.

په خبر پښتونخوا کې په یوولسم اکتوبر کومه جرګه کیږي؟

د پښتون ژغورنې غورځنګ مشر منظور احمد پښتین، چې د پښتنو قامي عدالت جرګې مشري هم کوي، ویلي چې په خبر پښتونخوا کې به د ۲۰۲۴ کال روانې اکتوبر میاشتې په یوولسمه، دولسمه او دیارلسمه نېټه یوه ستره ولسي جرګه کیږي. منظور احمد پښتین دغې ستري جرګې ته د پښتنو قامي عدالت جرګې نوم ورکړی، چې ټاکل شوې ده، د پښتنو قامي عدالت په نوم دغې جرګې ته، د خیبر پښتونخوا، بلوچستان او نورو مختلفو پشتون میشتو سیمو پښتانه مشران، سیاسي فعالان، د پښتنو خواخوري او نورو کسان بلل شوي دي.

د یوولسم اکتوبر ستري جرګې خبرې وروسته له هغې ډېرې تودې شوې، کله چې د پښتون ژغورنې غورځنګ پر یو مهم غړي او ټولنیز فعال ګیلامن وزیر د ۲۰۲۴ کال جولای میاشتې په ۷مه نېټه پاکستان اسلام اباد کې د یو ډله کسانو لخوا لومړی مرګونی برید وشو او بیا څلور ورځې وروسته یې د مرګ اعلان وشو.

منظور احمد پښتین د پښتنو قامي عدالت د جرګې راغوښتلو خبره هم د ګیلامن وزیر د جنازې په مراسمو کې کړې وه، چې په وینا یې، په دې جرګه کې به د دې پربکړه کیږي، چې پښتانه پاکستان کې د خپلو ورکو، او ترور شویو خلکو او د خپلو حقونو ترلاسه کولو لپاره کومه لار غوره کوي.

د ګلیلامن وزیر د جنازې یو انځور

په جرګه کې به د اجنډا له مخې اساسي فعالیتونه او کړنې څه وي او څه ډول به دا جرګه را ټولیږي؟

د پښتون ژغورنې غورځنګ مشر منظور احمد پښتین د جولای میاشتې په ۷مه نېټه د ګیلامن وزیر دجنازې مراسمو کې زرګونو راټولو شویو کسانو ته په خپله وینا کې ویلي وو، چې یاده جرګه به په یو لوی میدان کې، چې هلته به ۳۰ یا ۴۰ زره نماینده کسان راټولیږي ترسره کړي. د ده په خبره په دې جرګه کې به یو لوی سکرین باندې پر پښتنو شوي ظلمونه، ستونزې او د هغوی

وسایل وړاندې کوي، تر څو پښتانه له هغه څه خبر شي، چې دوی سره څه روان دي او له هغه هم خبر شي، چې دوی څه لري.

د منظور پښتون وینا ویډیو

د پاکستان حکومت د دې جرګې مخالفت ولې کوي، او ایا په یوولسم اکتوبر به جرګه ترسره شي؟

دا چې د جرګې د راټولېدو ورځې رانږدې شوې نو ورسره سم د پاکستان د کورنیو چارو وزارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې د پښتون ژغورنې غورځنګ یې د ممنوعه سازمانونو په لیست کې شامل کړی دی. په د پاکستان د کورنیو چارو وزارت په خپره شوې اعلامیې کې راغلي چې دغه غورځنګ د سولې ضد فعالیتونو کې تورن دی، ځکه نو د پاکستان دولت د ۱۹۹۷ کال د ترهګر ضد قانون د ۱۱مې B مادې پر بنسټ د دغه حرکت یا غورځنګ فعالیتونه غیر قانوني بللي او په ممنوعه سازمانونو کې یې شامل کړی دی.

د پاکستان اعلامیه

خو بیرته بیا د دغه غورځنګ غړي او مشرتابه یې وایي، چې د هر ډول بندیزونو سره - سره به جرګه کوي او د جرګې پریکړه به عملي کوي.

تر دې وړاندې هم د خیبر پښتونخوا سیمې پولیسو د خیبر د جمرود سیمې په ریګي للمه میدان کې د د پښتون ژغورنې غورځنګ د راتلونکې یوولسم اکتوبر جرګې لپاره پر لږول شویو خیمو یا کیمپ برید کړی وو.

پر خیمو د برید عکس

د یووولسم اکتوبر قامي عدالت جرګې ته په افغانستان کې د طالبانو د حکومت غبرګون څه دی؟

د طالبانو حکومت د بهرنیو چارو وزارت د ویاند له لوري پر اېکس پاڼه یو اعلامیه خپره شوې ده، چې په مشخص ډول یې د پښتنو قامي عدالت یوولسم اکتوبر جرګې نوم ندی اخیستی خو دې جرګې او په پاکستان کې روانو کړکېچنو حالاتو ته یې په اشاري ویلي، چې، پاکستان کې د وروستي وضعیت او په دې هېواد کې د حکومت او سیاسي مخالفینو د پلویانو ترمنځ ترینګلتیا د اندېښنې وړ کچې ته رسېدلې ده او په خبره یې، دوام به یې پر ټوله سیمه منفي اغېز ولري.

د طالبانو ایکس پاڼه

Claim: Israeli tanks have been destroyed after entering Lebanese territory.

ادعا: د اسرائیلو ټانکونه د لبنان خاورې ته له ننوتلو وروسته ویجاړ شوي دي.

ویډیو: آیا د دې پوځي ټانګ د ویشتلو دغه ویډیو د اسرائیلي ځواکونو د ټانګ ده؟

Fact Check: The video which shows a military tank being targeted, is not related to the Israeli-Lebanese conflict. But, this military tank, a Russian T-90M model, was destroyed by Ukrainian forces in the city of Makiivka in eastern Ukraine in October 2023.

هغه ویډیو چې پکې ښکاري یو پوځي ټانګ په نښه کیږي، د اسرائیلو او لبنان شخړې پورې هیڅ تړاو نلري، بلکې دغه پوځي ټانک، چې روسي (T-90M) ماډل دی، د اوکراین په ختیځ (Makiivka) نومي ښار کې د اوکراینې ځواکونو له لورې په 2023 کال اکتوبر میاشت کې ویشتل شوی وو.

Title: Do you want to know about the 11 Oct National Grand Assembly of Pashtuns? Here are the answers to important questions!

Synopsis: On October 7, 2023, Hamas launched a sudden and surprising attack on Israel, after which tensions between Israel and Palestine, Lebanon, and Iran escalated significantly. In this context, numerous images and videos with false claims have been circulating on social media. Recently, several social media users shared a video showing a military tank being targeted and destroyed. Many of these users claimed that this was an Israeli military tank that had entered Lebanon and was subsequently hit and destroyed. However, this video is not related to the ongoing conflict between Israel and Lebanon; it actually pertains to the war between Russia and Ukraine. It is noteworthy that the tank in question is a Russian T-90M model, which was destroyed by Ukrainian forces in the city of Makiivka in eastern Ukraine in October 2023.

Key Words: Lebanon, Isael, Palestine, Iran, T-90M, recent clashes

URL SLUG: t90m-tank-destroyed-ukraine-not-israel